# مسیر

ورځپاڼه

www.maseerdaily.af

نوی لید، نوی مزل

سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنگاښ اتمه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۹مه | ۷۴۱مه گڼه


## ځېره

۴ مخ

### عبدالله مقری

مقری د خپلو ملي او حماسي سندرو له امله نه یوازې په افغانستان؛ بلکې په لر او بر کې د ټولو پښتنو په زړونو کې ځانگړی ځای لري.



# د خپلسرو وسله والو ډېرېدونکي خوځښتونه او اندېښنې؛

## وکیلان: که خپلسري وسله وال کنټرول او مدیریت نه شي، تېرې ترخې تجربې به بیا تکرار شي




## دوه ذهنیتونه چې د سولې مخه نیسي

۲ مخ

## د ملېشو جوړوونکي پاړوگران به د همدې مارانو له لاسه مري

۲ مخ

## مونږ خیرات هم غواړو او تشریفات هم

۳ مخ

## د چین په مرسته جوړه شوې تدریسي ودانۍ کابل پوهنتون ته وسپارل شوه



په کابل پوهنتون کې د چین په مالي مرسته جوړه شوې تدریسي ودانۍ او تالار گټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

په کابل کې د چین سفیر وانگ یو په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو ته په وینا کې ویلي، چې چین له اوږدې مودې راهیسې له افغانستان سره د زېربناوو د جوړولو په برخه کې مرسته کړې او د دغو مرستو لړۍ به دوام وکړي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې چې هېواد به یې له افغانستان سره د کرونا پر وړاندې مبارزې او د سولې پروسې بشپړ ملاتړ ته هم دوام ورکړي. د یادونې ده چې چین د افغانستان په بیا رغونه کې د پام وړ مرسته کړې، چې د کابل پوهنتون د کنفوسیوس پوهنځي تدریسي ودانۍ، د افغانستان د تخنیکي او مسلکي زده کړو ملي انسټیټیوټ، په کابل کې جمهوریت روغتون، په کندهار کې میرویس روغتون او دې ته ورته ډېر نور کارونه یې ژوندۍ بېلگې دي.

## محب: د پاکستان د کورنیو چارو د وزیر ستاینه کوم چې له طالبانو د پاکستان ملاتړ یې افشا کړ

د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب د طالبانو او پاکستان د اړیکو افشا کولو په اړه د دغه هېواد د کورنیو چارو د وزیر شېخ رشید احمد څرگندونې ستایلې دي. حمدالله محب پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي: «زه د پاکستان د کورنیو چارو وزیر ستاینه کوم چې له طالبانو د پاکستان ملاتړ افشا کوي. موږ لا زړورو پاکستانیانو ته اړتیا لرو چې پر افغانستان د بریدونو پر ضد خبرې وکړي.»

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د کورنیو چارو وزیر شېخ رشید احمد د یاد هېواد له جیوز نیوز سره په تازه مرکې کې ویلي چې د افغان طالبانو کورنۍ په پاکستان کې اوسېږي. نوموړي زیاته کړې، چې د افغان طالبانو کورنۍ د اسلام اباد په حدودو، روات، لوی بیر، باره کهو، تر نول او ځینو نورو ځایونو کې اوسېږي.

رشید احمد همدارنگه ویلي چې د افغان طالبانو مړي په پاکستان کې خښېږي او د ټپیانو درملنه یې هم هلته کېږي. که څه هم طالبانو تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې ورته راپورونه رد کړي دي. دا لومړی ځل دی چې یو لوړپوړی پاکستانی چارواکی په خپل هېواد کې د افغان طالبانو په اوسېدو باندې اعتراف کوي.

افغان حکومت تر دې مخکې پاکستان په افغانستان کې له جنگېدونکو طالبانو څخه پر ملاتړ تورن کړی، خو د پاکستان حکومت دغه تورونه رد کړي.

## عبدالله: د اوسني وضعیت د حل یوازینۍ لاره جگړه نه، بلکې سوله ده



۲ مخ

## سازمان عفو بین‌الملل: طالبان و نیروهای دولتی قوانین جنگی را نقض کرده‌اند



پس از پخش تصویرهایی از تیرباران‌شدن اسیران نیروهای ویژۀ ارتش در ولایت فاریاب از سوی طالبان و نیز بی‌حرمتی به جسدهای جنگ‌جویان طالبان در ولایت غزنی از سوی نیروهای ارتش، سازمان عفو بین‌الملل می‌گوید که این رویدادها نقض قوانین جنگی استند.

تصویرهایی که در رسانه‌های اجتماعی پخش شده‌اند، نشان می‌دهند که ۲۳ تن از نیروهای ویژۀ ارتش در ولایت فاریاب که از سوی طالبان اسیر شده‌اند تیرباران می‌شوند. در تصویرهای دیگر، دیده می‌شود که نیروهای ارتش بر جسد چند تن از جنگ‌جویان طالب در ولایت غزنی بی‌حرمتی می کنند.

سازمان عفو بین‌الملل از دو طرف درگیر جنگ در افغانستان می‌خواهد که جلو این گونه رویدادها را بگیرند.

زمان سلطانی، محقق سازمان عفو بین‌الملل گفت: «جداً می‌خواهیم که قوانین جنگی را رعایت کنند و از نقض قانون بشردوستانه بین‌الملل خودداری کنند».

در همین حال، کمیسیون مستقل حقوق‌بشر افغانستان از حکومت می‌خواهد که برای بررسی جرایم جنگی از سوی یک نهاد بی‌طرف جهانی دادخواهی کند تا عاملان جنایت‌های جنگی به کیفر برسند.

ذبیح‌الله فرهنگ، مسؤول بخش رسانه‌های کمیسیون مستقل حقوق‌بشر افغانستان در این باره اظهار داشت: «نیاز به دادخواهی بسیار زیاد دارد؛ به‌خاطر این‌که اعضای شورای حقوق‌بشر سازمان ملل باید به آن رأی بدهند.»

همزمان با این، لعل گل لعل، رئیس سازمان حقوق‌بشر افغانستان می‌گوید که افغانستان عضویت کنوانسیون‌های حقوق‌بشری را دارد و اگر این گونه رویدادها از سوی نیروهای دولتی سر بزنند سبب کاهش کمک به نظامیان می‌شود.


کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652 Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af aksosbookstore@gmail.com

سرلیکنه

## دوه ذهنیتونه چې د سولې مخه نیسي

طالبان لا هم پرمختګ کوي او هره ورځ نوې ولسوالۍ نیسي. که څه هم حکومت د ځینو ولسوالیو د بېرته نیولو ادعا کوي، خو دا بیا هغسې په چټکۍ نیول نه دي لکه چې طالبانو ولسوالۍ ونیولې. دلته د یوه او بل لوري د پرمختګ خبره یو طرف، خو دا حالت د جګړې د دوام مانا لري چې د افغانستان خلک یې نه غواړي او له دواړو لورو هیله لري چې د سولې خبرې بیا پیل کړي او د افغانستان لانجه د خبرو له لارې حل کړي. داسې ښکاري چې د سولې پروسه به همداسې سړه وي، خو ولې؟

اوږده موده کېږي چې د سولې خبرې په ټپه ولاړې دي او کوم پرمختګ پکې نشته. نه یوازې پرمختګ پکې نشته، بلکې عادي خبرې هم نشته. طالبان حکومت او حکومت طالبان ملامتوي چې خبرې یې درولې دي. اوس د امریکا هغسې کوم فشار هم نشته چې دواړه اړخونه خبرو ته را وګرځوي. له همدې امله خبرې په ټپه ولاړې دي. په دې وروستیو کې ځینې هڅې شته چې د خبرو د بیا پیل لپاره کېږي، خو هغه هم له ستونزو سره مخ دي. تاکل شوې وه چې له کابل څخه شپږ لوړې پوړې چارواکي او سیاستوال دوحې ته ورشي او له طالبانو سره خبرې وکړي، چې دا سفر هم بیا بیا ځنډېدلی دی. ټاکل شوې وه چې پخوانی ولسمشر حامد کرزی، ډاکتر عبدالله عبدالله، کریم خلیلي، یونس قانوني او د مصالحې شورا دوه مرستیالان بابر فرهمند او اکرم خپلواک تېره اونۍ دوحې ته تللي وای، خو سفر یې وځنډېده. اوس هم هڅه روانه ده چې دا کسان دوحې ته ورشي. د دې تر څنګ د استانبول د غونډې لپاره هم هڅې روانې دي، خو دا هڅې پیکه دي او نه ښکاري چې ژر به پکې پرمختګ وشي.

د سولې پر وړاندې ډېر خنډونه شته چې تر ټولو پکې د امریکا دریځ اساسي رول لري، خو د جګړې په ښکېلو اړخونو کې هم شته ذهنیت د خبرو پر وړاندې اساسي خنډ دی. د طالبانو په لوري کې لا هم دا ذهنیت دی چې جګړه دوی ګټلې او د امریکایانو له وتلو وروسته دوی اوسنی حکومت هم لاندې کوي. د دوی په نظر سوله باید داسې وي چې حکومت دوی ته وسپارل شي او دوی بیا پر نورو کسانو برخې وېشي. دا هغه ذهنیت دی چې مقابل لوری یې منلو ته نه حاضرېږي. حکومت بیا فکر کوي چې که د سولې خبرو پایله هرڅه وي، خو یوه مسئله پکې روښانه ده چې اشرف غني، د هغه مرستیالان او د ټیم مهم کسان یې نور په واک کې نشته. له دې امله چې هر څه د دوی له لاسه وځي، نو سولې ته هغسې لېوالتیا نه ښیي چې خلک یې لري. پر دې اساس دغه دوه ذهنیتونه د سولې پر وړاندې تر ټولو لوی خنډونه دي. اوس د دې لپاره د بندیانو نه خلاصون او یا هم تاوتریخوالی د پلمو په توګه یادېږي، خو اصلي ستونزه په شته ذهنیتونو کې ده.

دواړه لوري باید پوه شي چې خلک سوله غواړي او د دې لپاره ښایي فشار هم راوړي، نو ځکه دوی باید خپل ذهنیت بدل کړي. دا ممکنه نه ده چې جګړه دې دوام وکړي او خلک دې د اشرف غني ملاتړ وکړي او دې ده د واک لپاره دې قرباني ورکړي. دا هم ممکنه نه ده چې خلک دې د طالبانو پوره واکمني ومني. خلک غواړي چې ټول اړخونه په یوه داسې حکومت کې وي چې زموږ د دیني ارزښتونو پر اساس جوړ شوی وي. له همدې امله دواړه لوري باید خپل ذهنیت بدل کړي او د خلکو هیلو ته مثبت ځواب ووایي.

# د ملېشو جوړوونکي پاړوګران به د همدې مارانو له لاسه مري

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

په دوحه کې د افغان- امریکا جګړې د ختم په لاره کې د طالبانو او امریکا د سولې هوکړه، د بهرنیانو د کرغېړن او ناروا شتون د پای ته رسېدو هڅې او دا چې طالبانو منلې وه چې دوی به په بین الافغاني مذاکراتو کې برخه اخلي او د تېرې ۴۰ کلنې ربړې له ټولو ښکېلو افغاني طرفونو سره به د خپلمنځي خبرو او مذاکراتو له لارې افغان وطن ته سوله راولي، د وطن د ابادۍ او عزت په لار کې به د نړۍ د نورو بالغو ملتونو په څېر د خپل برخلیک په ټاکلو کې برخه اخلي او د دې لپاره یې د بهرنیانو هر ډول لاسوهنه، غوښتنه او فرمایش په افغاني ډیالوک کې منع کړل او د بهرنیانو د غوښتنو پر وړاندې ودرېدل.

دا هغه څه وو چې د سولې هیلې یې غښتلې کړې، ولس یې د سبا افغانستان په عزت، ثبات او سیال دریځ باوري کړ. مګر بدبختانه د حکومت اړخ د ۲۰ کلنو لاسته راوړنو، جمهوریت، اساسي قانون او د امنیتي بنسټونو د ساتنې په خیالي پلمو د سولې او مذاکراتو په لار کې خنډونه راولاړ کړل، طالب بندیان یې چې یوازینی ګناه یې د افغان وطن له سیاسي حریت او تاریخي عزت، خپلواکۍ او آزادۍ څخه ننګه او د خپلو تېرو اسلافو په څېر بهرنیانو او یرغل ته یې (نه) ویل وو، د هغوی له خلاصولو یې انکار وکړ، هغه یې خپلې سرې کرښې وګڼلې، لانجې او لالچونه یې پرې وکړل او حتی ۴۰۰ طالب بندیانو ته خو یې د ولس په نوم جعلي او مصنوعي جرګه هم راوغوښتله.

دوی په دې هم بسنه ونه کړه؛ بلکې مخکې لاړل، له پاکستان سره د خبرو یې وویل، د جګړې او زور خبرې یې وکړې، د طالب خلاف رسنیزه جګړه یې پیل کړه، د ډاکتر غني، مرستیالانو او د ارګ د ویاندویانو ادبیات دومره جګړه مار شول چې د اور بځرې یې بادول.

د تبلیغاتي جګړې له دې توپان سره یوځل بیا د ډېرو هغو سیمو بمباري پیل شوه، چې د دوحې د هوکړې خلاف وه او د حکومت- امنیتي ادارو خو د سیمو د تصفیې او د طالبانو له وجوده د پاکولو نغارې هم وغږول شوې.

په مذاکراتو کې خنډونه راپیښ شول، د دوحې بین الافغاني مذاکرات د حکومت سختو شرایطو ټکنی کړل او داسې ذهنیت خپور شو او دا د حکومت له دریځونو تبلیغېدل چې په امریکا کې د نوي ولسمشر جو بایډن له راتګ سره به د دوحې د سولې هوکړه لغوه یا لږ تر لږه د امریکایانو د پاتې کېدو موده به وغځېږي او په دې سره به د غني حکومت پنځه کاله بشپړ او طالبان به د سولې او جګړې له یوه تپل شوي حالت سره مخ کړي. ځکه هم ارګ، مرستیالانو، ویاندویانو، موتلفینو او د ولسي جرګې غړو به ویل چې امریکا باید د دوحې تړون ملغا او یا لږ تر لږه د دوی د ناز او سلیقې سره سم ټکی او شرایط دې ورزیات کړي.

مګر د طالبانو فعالې سیمه ییزې ډیپلوماسۍ، په جګړه کې د امریکایانو له نظره د دوی د ماتې تر درشل ښکېلتیا او دا چې په لوېدیځو رسنیو کې دا د امریکا د تاریخ یوه اوږده او ناپایه جګړه وبلل شوه، نو د بایډن په مشرتابه نوې امریکایي ادارې د ۲۰۲۱ کال د سپټمبر تر ۱۱مې پورې د دوحې هوکړې له شرایطو سره سم د ټولو ځواکونو د وتلو اعلان وکړ.

طالبانو او امریکا که څه هم د دوحې په هوکړه پوره عمل ونه کړ، ولې د یوه ستراتیژیک تدبیر پر بنسټ یې د دوحې هوکړې ته ژمنتیا وښوده.

په مقابل کې ډاکتر غني او محدود ارګ محوره ټیم یې د دې پر ځای چې د سولې لپاره له رامنځته شوي فرصته ګټه واخلي او د سولې له لارې خپل پرون جبیره کړي، د سولې تخریب ته یې کار ووایه، یوځل بیا یې د طالبانو د انشعاب ناکامې هڅې پیل کړې، پر جګړه او جګړه مارو ادبیاتو یې تکیه وکړه او په یوه تاریخي اشتباه سره یې د طالبانو خلاف د سیمې هېوادونه لکه ایران او هند په افغان قضایاوو کې راښکېل کړل. ایرانیان بیا بیا کابل ته راغلل او هند د شمالي ټلوالې تنظیمي مشران لکه عبدالرشید دوستم، اسماعیل خان او عطامحمد نور ډیلي ته د بلې جګړې د تیاریو لپاره وبلل او د افغانستان د ملي امنیت له لارې یې د دوی د مالي، سیاسي او استخباراتي ملاتړ ټېر وواهه.

هغه چې له دغو سفرونو څخه وروسته دوستم په تخار، جوزجان او سرپل کې د مرګ په نوم درې ۷۵۰ کسیزه قطعې هم جوړې کړې.

د حکومت له اړخه د سولې په لار کې لویو خنډونو، دښمنانه مانورونو، تخریبونو، سبوتاژونو او په ځانګړې توګه یوې بلې جګړې ته د تګ اعلانونو طالبان اړ کړل، چې جګړې شدیدې کړي او د سبا افغانستان د ځواب ویونکي طرف په توګه اجازه ورنه کړي، چې د ۱۹۹۰یمو کلونو د شر او فساد ډانګیان افغانستان د پردیو بدمخو کرایي جګړو، شرارتونو او ورور وژنو کندې ته ورټېل وهي.

ولې موږ ولیدل چې کله طالبانو د نرمې جګړې له لارې ډېرې سیمې لاندې کړې او لسګونه ولسوالۍ یې ونیولې، حکومت خپل بد نیت او دسیسه څرګنده کړه او لکه د ډاکتر نجیب الله په څېر یوه تجربه شوې، ناکامه او د اورونو بلوونکې تېروتنه یې وکړه، چې هغه د ۱۹۹۰یمو کلونو د تنظیمي جګړه مارانو، ټوپکیانو، پاټکیانو او اربکیانو راټولول او وسله‌وال کول وو.

هغه چې غیر مسوولو وسله‌والو ته د دفاع په نامه د وسلې یا د قوې د استعمال صلاحیت ورکول او انتقال و، هغه د دې پر ځای چې د طالبانو ملي مقاومت او تاریخي داعیه وننګوي، خپله به د کابل واکو واکمنو پایښت کمزوری او د واکمنۍ ورځې به یې د ګوتو په شمېر را کمې کړي.

نو زموږ غږ د زوال د ورځې په دې نشه‌یي غټانو دا دی چې لا اوس هم د وطن د ژغورلو او د تاریخ د جبیرې وخت شته، امریکا ته مو تګ هرڅه روښانه کړل، راوګرځئ، د وطن په عزت کې برخه واخلئ، ملېشو ډاکتر نجیب هم ونه ژغوره، نو تاسې خو بیخي نه شئ ژغورلی، په پردو تکیه ناکامي لري او هو دغه ملېشې هغو مارانو ته ورته دي، چې ډېر ماهره پاړوګران یې مړه کړي او وژلي دي.

# عبدالله: د اوسني وضعیت د حل یوازینۍ لاره جګړه نه، بلکې سوله ده



د مصالحې عالي شورا مشر عبدالله عبدالله وایي، افغان حکومت لا هم د سولې خبرو د دوام لپاره لېواله دی او تېرې تېروتنې به تکرار نه‌شي.

عبدالله په کابل کې د یوې خبري ناستې پر مهال یو ځل بیا ټینګار وکړ، چې افغان حکومت لا هم د سولې خبرو د دوام لپاره لېوال او هڅاند دی.

نوموړي دا څرګندونې له جمهور رییس غني سره مل د امریکا له سفره تر راستنېدو وروسته کوي او وایي، طالبان باید پوه شي چې د جګړو دوام د هېواد د اوسني وضعیت د حل‌لاره نه ده او د اوسني وضعیت لپاره د سیاسي لارې ټاکل غوره دي.

د نوموړي په خبره: «تر خلکو باید دا ورسوم چې په داسې حال کې چې زموږ اراده د خبرو اترو د تعقیب، د سیاسي او غیر نظامي حل‌لارې د موندلو، د داسې ټول‌شموله حل‌لارې چې پایله یې دا وي چې په افغانستان کې ټول په سوله کې ژوند وکړو، دا هڅې به دوام مومي، زه پر دې باوري یم چې که یو اړخ وغواړي پوځي لار غوره کړي دې هدف ته به ونه رسېږي.»

عبدالله په هېواد کې د وروستیو نا امنیو په اړه هم خبرې وکړې او د والسوالیو د سقوط په اړه‌یې هغه ګنګوسې رد کړې چې ګواکې دا سقوط د حکومت او امریکا ګډ پلان دی. نوموړي دا ډول اوازې خپرول شایعات وبلل او زیاته‌یې کړه چې په دې وروستیو کې په ولایتونو کې د جګړو شدت او د ځینو ولسوالیو د سقوط لاملونه له هېواده د بهرنیو ځواکونو وتل او مخکېنۍ ستونزې دي.عبدالله داسې مهال د سولې خبرو پر دوام ټینګار وکړ، چې په دې وروستیو کې په ځینو ولایتونو کې جګړې شدیدې شوې او ان په ساعتونو کې ولسوالۍ د طالبانو او افغان ځواکونو ترمنځ لاس په لاس کېږي. طالبان دغه څه سقوط او د افغانستان دفاع وزارت‌یې تکتیکي شاتګ بولي.که څه هم څه موده وړاندې افغان حکومت یو ځل بیا د سولې مرکچې پلاوي ځینې غړي له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو د بیا پیل په هدف دوحې ته واستول، خو دغه خبرې لا هم نه‌دي پیل شوې. په ورته مهال ځینې سرچینې وایي چې د دوی مرکچې پلاوی په دوحه کې دی، خو تر اوسه له طالبانو سره هېڅ ډول خبرې نه‌دي شوې.

دغې سرچینې د موضوع د حساسیت له امله د نوم نه‌ښودلو په شرط وویل چې طالبان د مذاکراتو بیا پیل ته نه‌حاضرېږي، خو طالبان بیا وایي چې دوی هم د سولې خبرو ته لېواله دي.د دې ډلې ویاند ذبیح‌الله مجاهد د عبدالله د څرګندنو په اړه وایي، دوی هم د جګړې د دوام پر ځای د سولې خبرو اترو دوام ته لومړیتوب ورکوي او مرکچې پلاوی یې هم دا ډول خبرو ته چمتووالی لري.

# مونږ خيرات هم غواړو او تشريفات هم

**ليکنه: عبدالوحيد وحيد**

نن مو د جګړې د اړتيا او دوام په اصلي راز خبروم. هغه دا چې جګړه کله هم په خپل ذات کې سپېڅلې نه وي. د جګړو سپېڅلتيا له جګړې وروسته د عدالت د تامين او امن د قيام لپاره وي. بله دا چې د اساسي موخو د تر لاسه کولو لپاره بايد وخت ځانګړی شي. کله کله متکور اړخ تر هغو د سولې خبرو ته تياری نه ښيي څو چې د جګړې په ډګر کې سولې ته مجبور نشي.

کله هم چې مخالف اړخ خبرو ته تيار شي، په همغه مهال جګړه د توجيه کولو له مدار څخه وځي او د مشروعيت استدلال له لاسه ورکوي.

خبرې پيلېږي، د غوښتنو نوملړ د دواړو غاړو لخوا وړاندې کېږي، د څه واخله څه ورکړه فارمولې پر بنسټ د دواړو متخاصمو ډلو تر منځ معامله کېږي او جګړه پای ته رسېږي. که احياناً دواړه متخاصمې ډلې ژور اختلافات ولري او هوکړې ته د رسېدو لپاره انعطاف نه مني، نو په اسلامي، افغاني او نړيوالو قوانينو کې د حل نورې لارې هم شته.

د تاسف ځای دا دی چې زمونږ دواړو خواو قطر ته باصلاحيته پلاوي او درېيمګړي نه، بلکې خپل مدافع وکيلان استولي دي او د پرېکړو واک يې ورڅخه نفې کړی دی. د مدافع وکيلانو په صورت کې قاضي پرېکړه کوي او قاضي اصلاً دلته شته نه دی، نو د سولې هيله بې ځايه ده.

راځئ هوډ وکړو چې په داسې مسايلو باندې خبرې، بحث او مناقشه ونه کړو چې د اختلاف بنسټونه جوړوي. په دې نه غږېږو چې جګړه حرامه ده که فرض، که هرڅه وي، خو د تېرو تجربو له مخې يې ګټې زمونږ دښمن ته رسېږي او زيانونه يې مونږ په اوږو وړو.

کولای شم له طالب اړخ څخه پوښتنه وکړم چې ولسوالۍ مو له چا ونيوې؟ هغوی څوک، د کوم قوم، کوم ملت او په کوم خدای، کوم کتاب او کوم نبي باندې ايمان درلود؟ فتحه کړای شوی ځای د کوم هېواد ملکيت و؟ اوس مو څومره، څه ډول او په کومو برخو کې بدلون راوست؟ دا خو ځرګنده خبره ده چې اکثره دولتي ځواکونه په خپله خوښه تسليم شوي دي. له هغوی څخه تر لاسه شوي ملکي او نظامي وسايطو باندې مو څه وکړل؟ په اصطلاح په تر لاسه شويو غنيمتونو او په دولتي تاسيساتو مو څه وکړل؟ راځئ ومنو چې که جګړه کول ستاسو مجبوريت هم و، خو له دې امله د افتخار او وياړ مقام نشته چې جګړه په کور کې او له ورور سره ده.

راځئ فرض کړو چې تاسو د کابل نيولو پر وړاندې ټول موانع شاته پرېښودل او د کابل په نيولو بريالي شوی، پوهېږی چې له څه ډول ننګونو سره به مخ ياست؟

ستاسو پر وړاندې شديد سياسي مخالفت او حتماً وسله‌وال مقاومت پيلېږي. تاسو له کورني او بهرني غبرګون سره مخ کېږی. تاسو به ونه کړای شی چې د افغانستان ټولې برښنايي، انځوريزې، کاغذي او تر هر څه وړاندې خواله رسنۍ مديريت کړای شی. ستاسو پر وړاندې د تبليغاتو توپان راپورته کېږي. تاسو ته جګړه، فساد، د ظرفيتونو نشتون، کمزوری اقتصاد، نړيوال بنديزونه، د دوولس ميليونه زده کوونکو د اړتياوو پوره کول، بېوزله ملت، د ګاونډيانو سيمې او د نړيوالو غوښتنې او مطلقاً ستاسو په کړو وړو شکمن ولس درپاتې وي؛ د يادو ستونزو حل ډېر څه ته اړتيا لري چې تاسو يې نه لری.

که تاسو کابل ته د دوو لسيزو وړاندې ښار فکر کوی، نو په خپل دريځ باندې بيا را تاو شئ! ياد ولرئ چې تاسو له يوه بشپړ جنګي اړخ څخه په مکمل ډول سياسي او ملي مسووليتونو ته اوړه ورکوی. ستاسو د فراست او مديريت وړتياوې تر ازموينو لاندې راځي. په بشپړ يقين سره درته وايم چې ستاسو په دندو کې دومره ډېروالی راځي، چې تاسو يې په علمي، تجربوي او سياسي برخو کې سترې نيمګړتياوې لری. تاسو به تاسو ته د تسليم شويو افرادو، اموالو، وسايطو، وسايلو او ودانيو ته د زيان رسېدو په تړاو مسوول وګڼل شی. ايا تاسو پوهېږی چې په ښارونو کې ستاسو پر وړاندې منفي ذهنيت لا هم شته؟ ستاسو لخوا نيول شوي دولتي وسايط په انځوريزو رسنيو کې لا تر اوسه لاس په لاس کېږي او ستاسو منفي اړخونه ننداري ته وړاندې کوي.

د حکومت له اړخ څخه هم پوښتنې لرم. هغه دا چې د ورور وژنه که مجبوريت هم وګڼو، خو تاسو د طالبانو وژل په وياړ سره يادوی. ايا پوهېږی چې ستاسو ولس د طالبانو د مړيو شمېره نه، بلکې سوله غواړي؟

ايا پوهېږی چې ستاسو ولس ستاسو د تاکتيکي شاتګ او سبا بېرته تخنيکي پرمختګ کې د دغه ولس او هېواد زيان وينې؟ ايا پوهېږی چې ستاسو په ليکو کې د پراخ مالي فساد له امله ولس له تاسو څخه په ډېر لرې واټن کې پروت دی؟

ايا پوهېږی چې ستاسو امريکايي او ناټو دوستانو د هغوی په اصطلاح (قاطع ملاتړ) ځواکونو هم دغه جګړه مهار نکړای شوه، نو تاسو به يې د مردمي بسيج په نوم په معلوم الحال جنګسالارانو څنګه او څه ډول مهار کړی؟

ايا پوهېږی چې سوله قېمت او ستاسو قربانۍ ته اړتيا لري او تاسو يوازې د ولس په قرباني باندې سولې ته رسېدل غواړی؟

ايا د ولسمشر، د هغه د مرستيالانو، وزيرانو او واليانو او نورو لوړپوړو چارواکو زامن له نظام څخه د دفاع په جنګي سنګرونو کې ولاړ دي؟

معلومه خبره ده چې ځواب نه دی، نو دوستانو!

بهر ته د تښتېدو تابيا نيولو، د جنګي ګواښونو، د عامه خلکو د وسله‌وال کولو او تاکتيکي شاتګ پرځای سولې ته د ارجحيت درجه ورکړئ. ملت سوله غواړي. همدغه مو د ملي عزت د ساتنې لپاره اړتيا ده.

واشنګټن ته د ولسمشر د وروستي سفر په هکله کله چې د خواله رسنيو فيسبوک پاڼه پرانيزې، نو د ړندو مقلدينو لخوا به امريکا ته د ولسمشر غني د سفر په لاسته راوړنو باندې سر تر اسمانه هسک شي، خو کله چې سليقوي مخالفينو ته راشې، نو داسې ښکاري چې ولسمشر غني او پلاوی يې له هوايي ډګر څخه بېرته راشړلي وي.

که راته په غوسه نشی، نو درته وايم چې امريکا د خپل پياوړي سياست او پنډ خورجيني جيب په مټ د ټولو بېوزله هيوادونو متفقه پير دی. مونږ محتاج او په خپلمنځي جګړه کې لتاړ او د امريکا مرستو ته محتاج ولس يو. نه مو څوک قدر کوي او نه هم راته لوړ تشريفات نيسي. هغه د پښتو متل دی خيرات هم غواړو او خر مو هم لغتې وهي. يوازې مونږ نه؛ بلکې ټولو هغو هيوادونو سره همدغه شان چلن کېږي، چې زمونږ په څېر بې درکه مشران لري. البته د احتياج او اړتياوو د کچې د توپير په نظر کې نيولو سره.

اوس هم وخت شته چې دواړه خواوې بايد يو بل ته د ماتې ورکولو له خطرناکو هڅو تېر شي. سوله نه ناروا ده او نه هم عيب دی. نه اسلامي اصول تر پښو لاندې کېږي او نه هم د ډيموکراسۍ بيخ و بنياد وځي. په يوازې سر نه غني حکومت کولای شي او نه هم طالبان د حکومت جوړولو وړتيا لري. که مو د يو بل د ماتولو مبارزې ته دوام ورکړ، افغانستان له يو بل ملي ناورين او بشري فاجعې سره مخ کيدای شي.

اوس داسې ښکاري چې د دواړو خواوو په يو بل باندې د باور کچه له صفر څخه ښکته ده، نو وړانديز مو ورته دا دی چې د ملګرو ملتونو د سرپرستې او نړيوالې ټولنې تر حمايت او تعهد لاندې د موقتې دورې لپاره د دواړو ډلو په ګډون د يوه بې پرې منل شوي شخص تر مشرتابه لاندې حکومت باندې هوکړه وکړئ او يا هم له ځانګړو شرايطو لاندې داسې موقته اداره جوړه کړئ، چې د يوه ځانګړي زماني چوکاټ په دوران کې عمومي ټاکنې وکړي او له هغه وروسته منتخب حکومت ته واک وسپارل شي. که داسې ونه شول، نو لازمه نه ده چې مونږ د رڼا راتلونکي ته هيله ولرو.

# د خپلسرو وسله والو ډېرېدونکي خوځښتونه او اندېښنې؛

## وکيلان: که خپلسري وسله وال کنټرول او مديريت نه شي، تېرې ترخې تجربې بهٔ بيا تکرار شي



د ولسي جرګې غړي په هېواد کې روان امنيتي وضعيت او د ولسي پاڅونوالو په نوم د خپلسرو وسله والو تازه خوځښتونو اندېښمن کړي دي. وکيلان وايي، د جګړو او ناامنيو لمن ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې ده، چې له کبله يې ګڼو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوړي او زرګونه کورنۍ د خپلو سيمو پرېښودو ته اړ شوي دي. دوی دغه راز وايي، چې په ځينو ولايتونو کې د طالبانو پر ضد د ولسي پاڅونوالو په نوم پر زرګونو کسانو وسلې وېشل شوي، خو که دغه خپلسري وسله وال د امنيتي ادارو تر کنټرول او مديريت لاندې را نه شي، په خپله به حکومت او خلکو ته پر لوی سرخوږي بدل شي. د دې جرګې غړی نصير فراهي زياتوي، چې افغانان په تېرو څو لسيزو جګړو کې له خپلسرو وسله والو او ملېشو ښه خاطره نه لري او که اوسنۍ وضعيت مديريت نه شي، لرې نه ده چې تېره ترخې تجربې به بيا تکرار شي. نوموړی زياتوي: «که پاڅونوال راولاړېږي، هغه بايد د اردو او يا د نظام په چوکاټ کې وي، نه داسې چې د تېر په څېر ملېشه سازي وشي او په راتلونکي کې بيا دا زمونږ حکومتونو او نظام ته سرخوږی وي».

د دې جرګې غړې بلقيس روشن بيا حکومتي چارواکي تورنوي چې له کوم مشخص پلان پرته پر خلکو وسلو وېشي، خو نوموړې خبرداری ورکوي، چې د دغو خپلسرو ملېشو جوړولو د هر ډول پايلو مسوول به حکومتي چارواکي وي. هغه وايي: «وګورئ نن هغه کسان چې په حکومت او امنيتي بنسټونو کې دي، اعلان کوي چې مونږ خلک مسلح کوو، دا خلک چې مسلح کوی، سبا يې څه ډول کنټرولوئ، دا هماغه پخوانۍ ملېشې دي، ازمويل شوي بيا ازمويل تېروتنه ده». وکيلان وروستيو نا امنيو او د طالبانو د بريدونو ډېرېدو ته په اشارې وايي چې دغه ډله دې د جګړې او زور پر ځای د سولې پر خبرو تمرکز ډېر کړي او له روانې افغان وژنې دې لاس واخلي. دوی پر امريکا او حکومت هم نيوکه کوي، چې د پټې معاملې له مخې يې له جګړې او مقاومت پرته پراخې سيمې طالبانو ته پرېښې دي.

خو د مصالحې عالي شورا مشر عبدالله عبدالله په کابل کې د يوې خبري غونډې پر مهال وويل چې امنيتي ځواکونه د کومې معاملې له مخې نه، بلکې د جګړو د شدت کبله له ځينو سيمو په لنډمهاله توګه په شا شوي، خو ډېر ژر به دغه سيمې بېرته تر خپل کنټرول لاندې راولي. عبدالله زياتوي چې د روان کړکېچ د پای ته رسېدو يوازينۍ لاره د سوې خبرې دي، خو که طالبان د زور له لارې خپلو موخو ته رسېدل غواړي، لويه تېروتنه کوي. هغه وايي: «که د جګړو شدت يا د سولې خبرو ټکني کېدل د يوې ناسمې محاسبې له مخې وي او يو اړخ ګومان وکړي چې د جګړې له لارې به پر افغانستان حاکم شي، دا يوه تېروتنه ده او د هر ډول پايلو مسوول به هم دوی وي».

په هېواد کې د روانو نا امنيو په تړاو دا څرګندونې داسې مهال دي، چې په دې وروستيو کې وسله والو طالبانو په ډېريو ولايتونو کې جګړو ته زور ورکړی او پراخې سيمې يې تر خپلې ولکې لاندې راوستې دي.

## د کتاب خبرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکټور فرینکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

د بندیانو له تجربو او کتنو چې ډېر مواد ترلاسه شوي، دې ته چې کله ګورو، نو له دې ښکاري چې په زندان کې د اروایي غبرګون درې پړاوونه یا دورې راځي: یو هغه وخت چې کله بندي زندان ته ننوځي، بل هغه وخت چې کله بندي د زندان له چاپېریال سره عادت شي او درېیمه یې ببرته د خلاصېدو دوره ده. د لومړي پړاو نښې شاک او ټکان دي. دغه شاک او ټکان کله کله زندان ته تر ننوتو مخکې هم لیدل کېږي. د روښانولو لپاره به یې زه درته د خپلې تجربې یوه بېلګه ووایم.

یونیم زر تنو څو شپې او ورځې په یوه ریل ګاډي کې مزل کاوه. په هره ډبه کې یې اتیا تنه ځای کړي وو. هر چا ځان خپلې غوټې ته تکیه کړی و، هره یوه ته له کلونو ژونده یوازې همدا یوه غوټه پاتې وه. ډبې دومره ډکې وې چې یوازې د شیشو په پورتنیو څنډو کې د سهارنۍ تتې رڼا رانوتو ته ځای پاتې و. ټول پر دې فکر وو چې ریل ګاډی ګنې د وسلې جوړولو فابریکې ته روان دی او په موږ به هلته کار کوي. موږ حتی پر دې هم نه پوهېدو چې لا په سیلیزیا کې یو که لهستان (پولنډ) ته رسېدلي یو.

د ریل ګاډي ماشین څوروونکی غږ کاوه. ته وا له درده د فنا پر لور د روان کړي بار له درده یې کړیکه وهله. غږ زیاتېده او موږ پوهېدو چې یوه لوی تمځای ته نودې شوي یو. په دې وخت کې یو دم د ټولو خپه ناستو خلکو له قطارونو چیغې شوې: «دا خو شویتز دی!»

تا به ویل د ټولو زړونه له حیرته ودرېدل، ځکه شویتز د وېرې، ګازخونو، انسان سېځلو او ډله‌ییزو وژنو په مانا و. ریل ګاډی ورو ورو له تمځایه تېر شو، ته وا د خلکو زړونه یې له چاودېدو ساتل. سهار وختي و. په تته رڼا کې پنډغالی له لرې راښکاره شو. د اوږدو ستنو قطارونه، ترمنځ یې غځېدلي اغزن سیمونه، د ساعت څلي، څراغ څلي او د ځپل شوو بندیانو لیکې، ټول د سهار په تپ کې تت ښکارېدل. بندیان پر سپېرو لارو سیده روان وو. خپل منزل هم راته نه وو مالوم. امرانه غږونه او شپېلي اورېدل کېدې او موږ یې پر مانا هم نه پوهېدو. زه په تصور کې د دار هغو رسیو او زندیو ته لاړم چې پرې راځړېدل. زه وېرېدلی وم؛ خو دا په دې مانا وه چې ګام پر ګام باید اوس له دې بې پایه وېرې سره بلد شو او ځان ورسره عادت کړو.

بلاخره تمځای ته ورسېدو، پخوانۍ چوپتیا د امر او قوماندو چیغو وخوړه. موږ به نور دغه بدرنګ او وېروونکي غږونه له دې ځایه نیولي تر اخره په زندان کې اورېدلي وای. د دوی غږ د قربانۍ وروستۍ چیغې ته ورته و؛ خو یو توپیر پکې و. دا غږ داسې و لکه د بیا بیا وژل کېدونکي انسان له مرۍ چې راوځي.

د ریل‌ګاډي دروازې ببرته شوې او ځینې بندیان راننوتل. ټولو یو ډول جامې اغوستې وې او سرونه یې پاک خرېیلي وو؛ خو خوراک ښکاک یې بد نه و. ټولو تقریباً د اروپا په هره ژبه خبرې کولې او د خندا یو حس یې درلود چې په دې وخت کې عجیب ښکارېده. لکه اوبو اخیستی انسان چې وښو ته لاس اچوي. زما ذاتي خوشبینۍ (چې په ډېرو سختو شرایطو کې یې زما احساسات کنټرول کړي) دا فکر را واچاوه چې دا بندیان ډېر ښه ښکارېږي. رواني حالت به یې ښه وي، ځکه خندا هم ورځي. څوک څه خبر دي، ښایي زه هم د دوی په حالت ورشریک شم.

په اروپوهنه کې د (Delusion of reprieve) په نوم یو حالت دی. دا د خلاصون د وهم غوندې دی. څوک چې په اعدام محکوم شوی وي، تر اعدام مخکې هم ورسره دا خیال پیدا کېږي چې ښایي په وروستیو شېبو کې ترې وژغورل شي. موږ په وروستۍ رسۍ پورې زړه تړلی و او په دې تمه وو چې ښایي وروستۍ شېبې به دومره ډېرې بدې نه وي. یوازې د دې بندیانو سره غومبورې او ګرد مخونه هم موږ ته لویه اسره وه. زه هغه وخت پر دې نه پوهېدم چې دا خلک د زندانیانو مخې ته د راتوتو لپاره ګومارل شوي وو او هر سهار به دې تمځای ته راتلل.

**دوام لري...**

# عبدالله مقری

احسان الله کریمي



عبدالله مقری د حماسي سندرو او ملي ترانو په ویلو کې ځانګړی نوم لري. نوموړي له ۱۳۵۷ کال راهسې ملي سندرې ویلې، چې افغاني موسیقۍ ته یې ډېره ښکلا ورکړې ده. په دې ډګر کې د هغه کړنې او لاسته راوړنې د هیچا له سترګو پټې نه دي. هغه د پښتو موسیقۍ او ادب لپاره د پام وړ کار کړی دی او خپل نوم یې د دې ډګر د پیاوړو سندرغاړو په سر کې ځای لري.

اروابناد مقری نه یوازې په افغانستان کې؛ بلکې په لر او بر کې د خلکو په زړونو کې د وطني سندرو ویلو له کبله ځانګړی ځای لري. مقري د وطن ناخوالې او د ولس د زړه دردونه د موسیقۍ په ژبه ویل. مقري په دې وروستیو کې په یوه مرکه کې ویلي وو، چې ولس ته یې د وطن دښمنان او دوستان د موسیقۍ په ژبه ورپېژندلي دي.

د هیواد حماسي شاعر، لیکوال او هنرمند عبدالله مقری د مولوي عبدالوهاب زوی و، چې د ۱۳۳۲ هجري لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۸مه نېټه د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په کوچال کلي کې زیږېدلی و.

نوموړي لومړنۍ زده کړې په دیني برخه کې د خپلې سیمې اړوند مدرسه کې کړې دي او وروسته بیا د منځنیو زده کړو په موخه کندهار ولایت ته ولاړ او د منځنیو زده کړو تر بشپړولو وروسته په کابل کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې یې رسمي دنده پیل کړه.

اروابناد عبدالله مقري د هغې لیونۍ مینې له وجې چې له خپل هیواد او خلکو سره یې لرله، د رسمي دندې تر څنګ حماسي شعرونه هم لیکل، د دې لپاره چې د هغه شعرونه حماسي وو او په شعرونو کې یې د وخت ناخوالې، د خلکو او هیواد درد بیان شوی و، نو د وخت د سیاسي حالاتو او ناخوالو له وجې هیڅ یو سندرغاړی دې ته حاضر نشو څو د هغه شعرونه د سندرو په بڼه ووایي. نو په همدې سره مقری دې ته اړ شو څو خپل حماسي شعرونه او ترانې د ښې اغېزې په پار په خپل آواز ووايي، چې لومړی ځل یې د افغانستان په ملي راډیو- ټلویزیون کې د سندرو په بڼه د خپلو لیکل شوو شعرونو ثبت پیل کړ، چې بالاخره نوموړي د ژوند تر اخره په سلګونو ملي او حماسي شعرونه ثبت کړل.

مقري له سپوږمۍ راډیو سره په ځانګړې مرکه کې ویلي وو، چې ډېری وخت یې هڅه کوله هغه شعرونه ووایي چې په هغه کې د وطن د ناخوالو درد پروت وي. مقري به ویل په شعرونو کې خپل ارمانونه لټوي او کله چې جلا وطنی شو، دې جلا وطنۍ پرې سخت بد اغېز وکړ او هر هغه شعر ته به یې ژړل په کوم کې چې به د وطن حالات بیان شوي وو.

په هیواد کې د ۷۰یمې لسیزې کورنیو جګړو د نورو افغانانو په شان عبدالله مقری هم کډوالۍ ته مجبور کړ، چې لومړی کوزې پښتونخوا او بیا متحده عربي اماراتو ته ولاړ. د کډوالۍ په وخت کی یې شاوخوا ۱۲۰ کسېټونه ثبت کړل چې د خپلې هیوادنۍ مینې تنده به یې ورباندې ماتوله. د مقري مینه له وطن سره هر څوک مثال ګرځوي، د هغه مینه د وطن په سختو حالاتو کې هم ښکاره وه، هغه په افغاني کلتور او وطن مین انسان و.

مقري به ویل، له وطن سره لیونۍ مینې سندرو ویلو ته اړ کړ. نوموړي په خپله یوه مرکه کې ویلي وو، چې هغه وخت چې ده په مدرسه کې زده کړې کولې او شعر لیکلو ته یې مخه کړه، ډېری سندرغاړو ته یې خپل شعرونه ولېږل، خو هیچا د ده شعر ونه وایه، ځکه خپله مجبور شو چې د شعر ثبتولو ته مخه کړي.

مقري ویل کله یې چې په لومړي ځل په سندرو ویلو شروع وکړه، له ډېرو ستونزو سره مخ و او په راډیو کې به یې ډېرې سندرې سانسور کېدلې. د نوموړي په وینا، دې چارې ډېر ځوراوه او ده هغه څه نه غوښتل چې وطني مینه به پکې نه وه. مقري په یوه مرکه کې ویلي وو چې خوشاله دی چې په ولس یې د کړې خدمت ښه معلوم دي. د هغه په خبره، یو وخت یې په ټولنیزو رسنیو کې د مرګ خبر خپور شوی و او له هغه کس سره چې دې ده د مرګ خبر یې خپور کړی و، په زرګونو خلکو غم شریکې کړې وه او دی له دې خوشاله و چې د ولس په منځ کې ځای لري.عبدالله مقري د ژوند، هیواد او افغان ولس ناخوالې، د کډوالۍ ژوند او نورې ترخې تجربې په خپلو سندرو کې ویلې او هغه یې د خپل دردمن زړه د درد کمولو او د ملت د راویښولو او یووالي یوه وسیله بیان کړې ده.

د دې تر څنګ نوموړي په خپلو سندرو کې د افغانانو د ویښولو او خوځښت په پار داسې شعرونه ویلي، چې کولای شي د هغوی لپاره یو لوری وټاکي.

عبدالله مقری تر کلونو مهاجرت وروسته په ۲۰۰۱ کال کې بیرته هیواد ته راستون شو. د مقري په اړه فرهنګي شخصیتونه د هغه مینه له وطن سره بې سارې او یوه الګو بولي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال هارون حکیمي وایي، چې مقری یو زړور هرمند و، هغه د وطن په سختو حالاتو کې د ولسونو غږ د سندرو په ژبه پورته کاوه او خلکو ته یې روحیه ورکوله.

له اروابناد عبدالله مقري څخه هیواد ته له فرهنګي او معنوي میراث پرته دوه لوړنې او پنځه زامن پاتې دي، چې یو زوی یې میرخان مقری د موسیقۍ په ډګر کې د خپل اروابناد پلار د پاتې ارمانونو د پوره کولو لپاره کار کوي.

مقري په ژوند کې دوه لوی ارمانونه درلودل چې په وینا یې یو په هیواد کې تلپاتې سوله او بل په خپل وطن کې مرګ؛ خو له دې دوو ارمانونو څخه یې یو پوره شو، په خپل وطن کې یې ساه وخته؛ خو د سولې ارمان یې ګور ته ورسره یووړ.

د هیواد نوموتی حماسي شاعر او هنرمند عبدالله مقری د ۱۴۰۰ کال د غبرګولي (جوزا) میاشتې په ۳۰مه نېټه په کابل کې د ور پېښې ناروغۍ له کبله له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

د نوموړي په مرګ ډېرو سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو شخصیتونو خواشیني څرګنده کړه او هغه یې د پښتو موسیقۍ لپاره یوه نه جبرانېدونکې ضایعه وبلله.

د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني د عبدالله مقري په مړینه ژوره خواشیني وښوده او هغه یې د هیواد یو زړور او ملي هنرمند یاد کړ. همدا راز د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي هم د مقري په مرګ خواشیني وښوده. حامد کرزی وایي، مقری د افغانستان د موسیقي یو ځلانده ستوری و چې د هنر د ودې لپاره یې د قدر وړ هلې ځلې کړې دي.

عبدالله مقري په هنري او خواږه انداز خلک د وطن ابادۍ، یووالي او سوله ییز ژوند ته وهڅول. له ژوند، وطن او هنر سره مینه او د وطنپالنې لوړې روحیه او پیغامونه یې د افغانستان تر هرې سیمې، کور او خپلو مینه‌والو رسول او دا یې لوی ارمان و چې یوه ورځ په افغانستان کې سوله راشي او خلک په سوله او یووالي کې ژوند وکړي.

د افغانستان د اطلاتو او کلتور وزارت وایي، عبدالله مقري په خپلو سندرو کې د جګړه ځپلي افغانستان او افغانانو دردونه او کړاوونه بیانول او په هره وطني او حماسي سندره او ترانه کې یې له ولس او هېواد سره مینې انګازې کولې.

د مقري په اړه د هیواد وتلی هرمند جاوید امرخېل وایي، هغه بلبل د تل لپاره له موږ ببل شو، چې په خپلو انقلابي سندرو به یې د ننګ په میدان کې د پښتون قام احساسات راپارول.

بالاخره د هیواد دا وتلی حماسي سندرغاړی د ٦٨ کلونو په عمر د تل لپاره له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۳۰ |
| € | ۹٤,۵۰ |
| Rp. | ٤۹۷ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۷۰ |
| £ | ۱۰۸ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# هغه کارونه چې تر دېرش کلنۍ مخکې یې باید تر سره کړئ

ژباړه: صفي الله پادشاه

د ځوانۍ دوران د سترګو په رپ کې تېرېږي. دا هغه طلايي وخت دی چې د راتلونکي ژوند لپاره مو د لويو برياليتوبونو د بنسټ ډبره ږدي. خو که بوډا ياست او عمر مو خوړلی دی، ښايي نه پوهېدی چې د ځوانۍ له عمر څخه څه ډول ګټه واخلی او که د ځوانۍ په دوران کې ياست، نه به پوهېږی چې څه ډول خپل دغه طلايي وخت وکاروی. که د انسان له ژوند څخه په ټوله کې یو تحلیل ولرو، کولای شو تر ټولو ډېرې انرژۍ لرونکی دوران د ځوانۍ وخت او له تر ټولو ډېرې تجربې او پوهې ډک دوران د بوډاتوب وخت وبولو. خو د بوډاتوب پر مهال که څه هم عقل، تجربه او پوهه خپل وروستي حد ته رسېدلي وي، خو د فزيکي کړنو د تر سره کولو لپاره کافي اندازه انرژي نه وي. همدارنګه برعکس، ډېره کله د ځوانۍ پر مهال خپله ټوله انرژي د هغه کارونو په تر سره کولو لګوو، چې زموږ د راتلونکي لپاره هېڅ موخه او ګټه له ځان سره نه لري.

ښايي تاسو له دې مخکې همدا ډول وی، موږ په دې مقاله کې درته هغه نهه کارونه په ګوته کړي، چې له دېرش کلنۍ مخکې یې باید تر سره کړئ:

**۱- په یوه لوی ښار کې ژوند کول**

په یوه لوی ښار کې ژوند کول، ستاسو د فکر کولو پر طرز او ډول باندې د پام وړ اغېزه کوي. ځکه، په یوه لوی ښار کې تاسو د مختلفو ځايونو له مختلفو خلکو سره اشنا کېږی، هغه خلک چې د ژوند کولو مختلفې طريقې، رواجونه او دودونه لري. په حقيقت کې کله چې تاسو په یوه لوی ښار کې ژوند کوی، له يوې حيرانوونکې پېښې سره مخ کېږی او هغه دا ده، چې پر دې پوهېږی چې داسې خلک هم شته چې ستاسو د ژوند کولو د طريقې خلاف، په بله طريقه او بل ډول ژوند کوي، خو د ژوند د طريقې په بدلون سره يې هېڅ هم له لاسه نه دي ورکړي. دا هر څه؛ ياني د لويو بدلونونو د رامنځته کېدو شونتيا.

**۲- فزيکي فعاليتونه بايد ولرئ**

څو چې ځوان ياست او د بدن د انرژۍ او توان سطحه مو لوړه ده، هڅه وکړئ چې پر ورزشي فعاليتونو باندې ځان بوخت کړئ. له ورزشي فعاليت څخه مو موخه يوه رسمي يا غير رسمي مبارزه نه ده؛ مهمه نه ده چې اصلاً دې سيالي يا مبارزه وي که نه، کولای شی له ځان سره پرېکړه وکړئ چې د دوو ښارونو تر منځ واټن په پلي تګ سره را لنډ کړی، له دې کار څخه مو موخه ستاسو فزيکي وړتيا تر وروستي حد پورې رسېدل او له يادې وړتيا څخه يو ګام مخکې تلل دي.

دغه ستونزې به په راتلونکي کې ستاسو د شخصي کار او ژوند د غوره خاطرو تر څنګ، تاسو ته لوړ پر ځان باور در په برخه کړي.

**۳- هڅه وکړئ چې ژور ذهني تمرين يا ورزش وکړئ**

د زړه او ذهن د ارامولو او د سټرس له منځه وړلو لپاره تر ټولو غوره، چټکه او ډاډمنه لار ذهني تمرين يا ورزش (meditation) دی. تاسو کولای شی د (meditation) يا ذهني تمرين په وسيله نه يوازې دا چې له خپل ژوند څخه د سټرس په نوم د برياليتوب خنډ په حيرانوونکې بڼه له منځه يوسی، بلکې دغه چاره د دې لامل کېږي څو ستاسو تمرکز په پام وړ توګه زياتوالی ومومي.

**۴- په انټرنېټ سره د کار زده کړه**

نن سبا له انټرنېټ څخه خلاصون او ځان غړول ناشوني دي. که وغواړی يا ونه غواړی، په نږدې راتلونکي کې به د ژوند هر څه د انټرنېټ پر بنسټ وي او ټولې کړنې به په انټرنېټي بڼه تر سره کېږي. د ځوانۍ دوران، په انټرنېټ سره د کار زده کړې لپاره تر ټولو غوره موکه ده. نن ورځ ډېری مسلکی وګړي خپلې کاري ژمنې او لاسته راوړنې د انټرنېټ او کمپيوټري سافټوېرونو په مرسته ثبتوي او د خپل کار جزيات تحليلوي. نو که مو تر ننه پورې د انټرنېټ په وسيله د کار زده کړه له پامه غورځولې وي، له همدې نن څخه پيل وکړئ څو يې په ښه توګه زده کړئ.

**۵- مينه وکړئ**

د ځوانۍ د دوران یوه په زړه پورې تجربه، مَينېدل دي. مينه هغه په زړه پورې او جالب احساس دی چې له تاسو پرته يې هېڅوک ستاسو په وجود کې نه شي رامنځته کولای او که چېرې مو دغه احساس تجربه کړ، هېڅکله به حاضر نه شی چې ځای يې بل احساس ته پرېږدی. ښايي په خپله مينه کې ماتې وخوری، ښايي پر سم کس باندې مَين نه شی، ښايي د خپل ژوند لومړنۍ او وروستۍ مينه هم پيدا کړی؛ خو دا هرڅه دومره مهم نه دي! بلکې تر ټولو مهم څه د ځوانۍ په دوران کې د مينې د احساس تجربه کول دي.



**٦- ماتې تجربه کړئ**

له دېرش کلنۍ مخکې د ژوند تر ټولو لوی او مهم درس دا دی چې زده کړئ څو څه ډول ماتې وخوری او تجربه يې کړی، څه ډول له خپلې ماتې درس واخلی، څه ډول يو ځل بيا پر خپلو پښو ودرېږی او خپلو هڅو ته يو ځل بيا دوام ورکړی. تاسو په ماتې خوړلو سره زده کوی چې يو ځل بيا بايد په لا ډېر توان او وړتيا سره د بريا د تر لاسه کولو لپاره هڅه وکړئ؛ دا هر څه ياني برياليتوب.

**۷- يوازې سفر وکړئ**

خپل بار او بستره ټوله کړئ او که مو تر اوسه کوم ځای ته په يوازې ځان سفر نه وي کړی، يو ځای وټاکئ او په يوازې توګه هلته سفر وکړئ. ډاډه اوسئ چې دغه په زړه پورې تجربه به په راتلونکي کې ستاسو د پرمختګ او ودې لپاره يوه د ارزښت وړ وسيله وي؛ په دې سره به د ستونزو او لوړو ژورو پر مهال وکولای شی خپل ذهن له منفي فکرونو پاک کړی، يو ځل بيا تصميم ونيسئ، د خپل راتلونکي مسير پيدا کړئ او يو ځل بيا يې پر لور ګام واخلئ.

**۸- يو کسب او کار پيل کړئ**

دغه چاره زموږ او ستاسو د دغه لېست تر ټولو مهمه برخه ده. هرو مرو له دېرش کلنۍ مخکې د ځان لپاره يو کاروبار جوړ کړئ، پوره هڅه وکړئ، برياليي شئ او وروسته ماتې وخورئ! ځکه، څېړنو ښودلې ده هغه لومړنی او دويم کسب و کار چې ښايي د ځوانۍ په دوران کې يې پيل کړی، له ماتې سره مخ کېږي؛ خو ماتې مهمه نه ده، بلکې مهمه هغه تجربه ده چې د دغې ماتې خوړلو پر مهال يې لاسته راوړی. مهم د لېوالتيا هغه حس دی چې د خپلو توليداتو، خدمتونو او کسب و کار پر وړاندې يې لری او تر هر څه مهم، د پېرودونکي زړه لاسته راوړل او د خرڅلاو د مهارتونو زده کول دي.

**۹- وېب لاګ يا وېب سايټ جوړ کړئ**

مهمه نه ده چې د ياد کار لپاره څه ډول موضوع ټاکی، بايد يو شخصي وېب لاګ يا وېب سايټ ولرئ. په هغه کې د خپل ژوند تجربې او لارښوونې له کتونکو او لوستونکو سره شريکې کړئ. کولای شی خپلې خاطرې پکې وليکئ، ان کولای شی هغه کتابونه پکې يادابنت کړئ چې تر دې دمه مو لوستي دي. د يوه وېب لاګ يا وېب سايټ په درلودلو سره تاسو زده کوی چې يوه رسنۍ ياست. رسنۍ اوسېدل ياني مخاطب ته د يوه ارزښتمن پيغام لېږدول.

دېرش کلني د ځينو کسانو لپاره يو حيرانوونکی عمر دی چې ډېر کله ترې د وېرې احساس کوي؛ خو په حقيقت کې ډېر هم ځانګړی او وېروونکی عمر نه دی. زما په نظر د عاقل کېدو لړۍ پيل همدغه عمر دی. که د سن يا عمر موضوع يوې خوا ته پرېږدو، ستاسو په نظر؛ په ژوند کې مو بايد کوم داسې کار تر سره کړی وای چې تر اوسه يې پر تر سره کولو نه ياست برياليي شوي؟ ايا داسې کوم کار و چې د نه تر سره کولو له امله يې پښېمانه شوي وی؟ په ځواب مو فکر وکړئ او د داسې کړنو لپاره لاس پکار شئ، چې د راتلونکي عمر لپاره مو د ارامۍ، سوکالۍ او برياليتوب بنسټ کېږدی، نه د خواشينۍ او پښېمانۍ.

# تهران: د خپلو اټومي تاسيساتو په تړاو به ملګرو ملتونو ته هېڅ ډول اسناد ونه سپارو

ايراني چارواکي وايي، د دغه هېواد د اټومي تاسيساتو دننه د هغو کمرو لهخوا اخيستل شوي فلمونه به چې د ملګرو ملتونو د اټومي څارنې ادارې نصب کړې وې، دغه ادارې ته ورنه‌کړي؛ ځکه د دوی په خبره، له يادې ادارې سره د څارنې شوې هوکړې نوره پای ته رسېدلې ده.



د ايران نيمه رسمي خبري اژانس تسنيم د دغه هېواد د پارلمان رييس محمد باقر قاليباف له قوله خبر ورکړی چې ويلي يې دي، په دې اړه هوکړه د چنګاښ په دريمه پای ته رسېدلې، نو ځکه به هېڅکله هم د اټومي انرژۍ ادارې ته ثبت شوي معلومات ور نه‌کړي.

د ايران پارلمان په تېره کب مياشت کې يوه مسوده تصويب کړې وه چې له مخې يې د درې مياشتو لپاره د اټومي انرژۍ د نړيوالې ادارې څارونکې کمرې پرېښودل شوې چې د اټومي تاسيساتو دننه فلمونه ثبت او هغه وڅېړي. دغه څارنه د يوې بلې مياشتې لپاره د چنګاښ تر دريمې پورې غځول شوې وه.ايران او د امريکا متحده ايالتونو د نړۍ له قدرتونو سره د ايران د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون د احيا لپاره د اروپايانو په منځګړيتوب په خپلو کې غير مستقيمې خبرې پيل کړې دي. د امريکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ز کال خپل هېواد له دې تړونه و ايست او پر ايران يې بېرته بنديزونه ولګول.تهران هم په غبرګون کې د دغه تړون په ترڅ کې کړې ژمنې په تدريجي ډول تر پښو لاندې کړې، خو د امريکا ولسمشر جو بايډن داسې نښې ښکاره کړې چې ګواکې امريکا لېواله ده چې بېرته له دغه تړون سره يوځای شي، که تهران هم په خپلو ژمنو بشپړ عمل وکړي.

د ايران د ولسمشر حسن روحاني د دفتر مشر محمود واعظي تېره اونۍ ويلي وو چې د هېواد د ملي امنيت عالي شورا به په خپله لومړنۍ غونډه کې د ملګرو ملتونو د اټومي انرژۍ له ادارې سره د شوې هوکړې د اعتبار تر پای ته رسېدو وروسته پرېکړه وکړي چې هغه وغځوي او کنه.

بلخوا د امريکا د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن څو ورځې مخکې ويلي وو چې که تهران په دې کې پاتې راشي چې دغه هوکړه ونه‌غځوي، نو د پراخو خبرو لپاره به د اندېښنې وړ موضوع وي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ايډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ډيزاين: حسيب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وايګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه‌شنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ اتمه | د ۲۰۲۱ د جون ۲۹مه | ۷۴۱مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ۳٦ | ٤٠ | ۳۹ | ۳۹ | ٤٥ |
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۹ | ۲۹ | ۲۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۸ | لمر ختل ۰۴:۴۳ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۴:۵۹ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ



# تهران: د خپلو اټومي تاسیساتو په تړاو به ملګرو ملتونو ته هیڅ ډول اسناد ونه سپارو

۵

## راپورونه: د عراق پولې ته نږدې د امریکا په برید کې لسګونو ایراني پلوه ملېشو ته مرګ ژوبله اوښتې



د جګړې څارونکې ډلې وایي چې د امریکا پوځ د سوریې په ختیځ کې د عراق پولې ته نږدې په هوایي برید کې پنځه ایران پلوه ملېشې وژلې او لسګونه نور ټپیان شوي دي.د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډله ویلي: «د امریکا د الوتکو په برید کې د ایران له ملاتړ برخمن د ملېشو پنځه وسله وال وژل شوي او یو شمېر نور یې ژوبل دي، برید د سوریې د سرحد په غاړه شوی».
د سوریې د بشري حقونو د څار دغه ډله وایي چې د سوریې له داخل څخه د خپلو سرچینو څخه معلومات ترلاسه کوي. راپور وایي، چې د برید موخه د ملېشو مرکزونه وو، چې پر ځاني زیان سربېره، پکې پراخ مالي زیانونه هم اوښتي دي.په ورته مهال د سوریې دولتي اژانس سنا بیا ویلي چې په برید کې یو ماشوم او درې نور کسان وژل شوي دي. بلخوا د امریکا دفاع وزارت هم په یوې اعلامیې کې دغه برید تایید کړی دی. دا د جوبایډن په حکومت کې دویم ځل دی چې امریکا ایران-پلوه ملېشې په نښه کوي. پنټاګون وایي په بریدونو کې د وسلو او امکاناتو زېرمې په نښه شوي چې دوه یې په سوریه او یوه یې په عراق کې وه.

## د روسیې له مخالفت سره، امریکا او ۳۱ نورو هېوادونو په تورې بحیرې کې پوځي تمرینونه پیل کړل

د روسیې له مخالفت او پرله پسې خبرداریو سره سره، ټاکل شوې چې لسګونو هېوادونه به په تورې بحیرې کې د نږدې دوو اونیو لپاره سمندري تمرینات پیل کړي.
دا تمرینات داسې وخت پیلېږي، چې روسیې د اوکراین سواحلو ته نږدې د پرتو چلنجونو په وړاندې د ځوابي اقدام خبرداری ورکړی دی. د سمندري ورمې په نوم دغه تمرینات به د جولای تر ۱۰مې روان وي چې ۳۲ هېوادونه به پکې برخه ولري.په دغو تمریناتو کې د تورې بحیرې په شاوخوا کې اکثریت پراته هېوادونه، د ناټو متحدان او شریکان برخه اخلي. په تمریناتو کې ۵،۰۰۰ پوځیان، ۳۲ جنګي بېړۍ، ۴۰ جنګي الوتکې او د ځانګړو عملیاتو او خبز وهلو ۱۸ ټیمونه شامل دي.
دا تمرینات په داسې حال کې پیلېږي چې روسیې تېره چهارشنبه ادعا وکړه چې په توره بحیره کې یې د خبرداري ډزې کړي او د برېټانیا د ډفېنډر په نوم د جنګي بېړۍ پر لار یې بمونه هم غورځولي دي، ترڅو دغه بېړۍ مجبوره کړي چې د کریمیا ټاپووزمې سیواستیپول ښار ته له نږدې ساحې خپله لار بدله کړي.
د لوېدیځ او روسیې ترمنځ دغه نانذرې داسې مهال دي، چې په دې وروستیو کې د امریکا او روسیې ولسمشرانو په خپلو کې له نږدې ناسته هم درلوده، ترڅو وکولی شي چې خپل وروستي مخالفتونه کابو کړي.

## وزیر داخله پاکستان: اجساد و زخمی‌های طالبان به پاکستان منتقل می‌شوند



شیخ رشید احمد، وزیر امور داخله پاکستان، در یک مصاحبه تلویزیونی گفته است که خانواده رهبران طالبان در پاکستان زنده‌گی می‌کنند و اجساد و زخمی‌های این گروه به شفاخانه‌های این کشور منتقل و معالجه می‌شوند.شیخ رشید احمد، وزیر داخله پاکستان، در مصاحبه با جیونیوز گفته است که خانواده رهبران گروه طالبان در مناطق میراواد، لوی میر، باراکو و ترنول پاکستان زنده‌گی می‌کنند.وزیر داخله پاکستان با اشاره به درگیری‌های طولانی در افغانستان گفته است که وی باور دارد که عمران خان، نخست‌وزیر پاکستان، می‌تواند این معضل را رهبری کند. به گفته او عمران خان برای حل این معضل یک راهکار بین‌المللی ارایه کرده است. وی هم‌چنان افزوده است که امریکا با ۲۰ سال حضور در افغانستان حتا یک «کارخانه گوگرد» هم نساخته است؛ جز این‌که باعث «خانه‌جنگی» و ادامه جنگ در این مدت شده است. به باور او امریکا پای ۴۰ کشور را به افغانستان کشانده است.
او اما در ادامه این گفت‌وگو اتهام این‌که طالبان و اسامه بن لادن در پاکستان مخفی شده‌اند را رد کرد و گفت: «هر اتهامی ممکن است بسته شود.»
در همین حال، شیخ رشید احمد، وزیر داخله پاکستان از طالبان خواسته است تا به تحریک طالبان پاکستانی اجازه اجرای عملیات از خاک افغانستان علیه این کشور را ندهند.

## ژوند

## د موټرولا تر ټولو ارزان بیه ۵جي موبایل



موټرولا کمپنۍ څو میاشتې وړاندې جي استایلس۲۰۲۱ نومې ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ او اوس یې د دغه ځیرک موبایل ۵جي بڼه هم معرفي کړې ده. دغه ځیرک موبایل کې ٦,۸ انچه اېل سي ډي ډوله مخ‌پاڼه ورکړل شوې ده. دغه موبایل د نورو ځانګړنو سربېره، ٦ ګیګابایټ رم او ۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتونې ظرفیت لري او د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۴۸۰ ډوله پروسېسر پکې کارول شوی دی. دغه موبایل ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې ۱۰ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې ۴ کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل، ۵ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپت سېنسر پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۱٦ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۳۹۹ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده او د جون په ۱۴مه به تر ټولو وړاندې امریکا کې خرڅلاو ته وړاندې شي.

## د ناکو روغتیایي ګټې



منېي ته د روغتیا خزانه ویل کېږي، خو ناک یوه داسې مېوه ده چې د مهمو غذایي توکو په لرلو له منېي څخه کمه نه ګڼل کېږي. دغه راز غوړ او کلیسټرول نه لري او په ورځني ډول یې خوړل د خطرناکو ناروغیو مخه نیسي. څرنګه چې ناک په خپل جوړښت کې لږ غوړ او ډېر فایبر لري، نو په همدې اساس د وینې فشار او کلیسټرول برابر ساتي. ناک د ډېرو شوو انسولینو پر وړاندې مزاحمت کوي او بدن ته د دې وړتیا ورکوي چې شکر او انسولین په وینه کې جذب کړي. دغه راز فلیوینول او اینټي سډ هم لري، چې درې واړه د شکر له ناروغۍ مخنیوی کوي. ناک د ویټامین سي او مسو په څېر انټي اکساید لري، چې دفاعي سیستم پیاوړی کوي او انسان له ناروغیو څخه خوندي ساتي. په یو برابر ناک کې زموږ د اړتیا وړ شل سلنه ورځني فایبر وي او موږ ټول په دې پوهېږو چې فایبر د هضم لپاره ډېر ګټور دي او د کولمو د پاکوالي سبب کېږي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank